# د افغانستان اسلامي امارت
# لوړو زده کړو وزارت
# احمدشاه ابدالي پوهنتون
# د کانکور ازمويني لپاره د نوم ليکنې لاربنود

☑ د کانکور ازمويني لپاره د نوم ليکنې اړوند اړين فورمونه عبارت دي له:

۱. د احمد شاه ابدالي پوهنتون اړوند د کانکور ازمويني لپاره د نوم ليکنې فورم

۲. د لوړو زده کړو وزارت اړوند؛ فورم ثبت نام داوطلبان نهاد های تحصيلات عالی خصوصی

۳. د احمد شاه ابدالي پوهنتون محصلانو چارو معاونيت اړوند پوهنځي ته د نوم ليکنې فورم او د محصل ژمن ليک (دغه فورم او ژمن ليک چې ځانګړي شرايط پکې ذکر شوي دي ګډونکوونکي ته د کانکور ازمويني وروسته ورکول کيږي او د ګډونکوونکي لخوا کله چې په کانکور ازموينه کې بريالی شي ډکيږي او لاسليک کيږي.)

د فورمونو د ډکولو لپاره عمومي سپارښتنې:

☑ د کانکور ازمويني لپاره د نوم ليکنې په ټولو فورمونو کې د ګډونکوونکي اړوند ټولو برخو ډکول اړين دي.

☑ د ټولو فورمونو د ډکولو پر مهال بايد ټول معلومات په سم او مکمل ډول پرته له تېروتنې، قلم توړلو، تراش، سپين قلم استعمال، جعل او تزوير وليکل شي. د ورته کړنو مسؤليت د ګډونکوونکي په غاړه دی او د فورم د رد کيدو لامل ګرځي.

☑ ګډونکوونکی بايد ټولې درلودونکې ځانګړنې په اړونده تشو ځايونو کې وليکي.

☑ ګډونکوونکی دې د هر نوم توری په بېله توګه په ځانګړو تشو ځايونو کې وليکي.

☑ ګډونکوونکی دې د هر فورم په ځانګړي شوي ځای کې خپل انځور نصب کړي.

☑ ګډونکوونکی بايد د هر فورم د ډکولو وروسته په ځانګړي شوي ځای کې لاسليک وکړي.

۱) د احمد شاه ابدالي پوهنتون اړوند د کانکور ازمويني لپاره د نوم ليکنې فورم:

☑ نوموړی فورم د ډکولو وروسته بايد د اړوند ښوونځي آمريت څخه لاسليک او ټاپه شي.

☑ په نوموړي فورم کې د ګډونکوونکي انځور هم بايد د اړوند ښوونځي څخه ټاپه شي.

☑ نوموړی فورم بايد د مربوطه ولايت پوهني آمريت يا هم پوهني رياست څخه لاسليک او ټاپه شي.

نوټ: د يادونې وړ ده چې د پوهني آمريت او پوهني رياست له دواړو څخه يواځې د يوه تائيدي هم کفايت کوي.

۲) د ګډونکوونکي اړوند اړين اسناد:

☑ د اصل تذکرې څخه دوه دانې رنګه کاپۍ.

☑ د ښوونځي شهادت نامې څخه دوه دانې رنګه کاپۍ، کچيرته شهادت نامه يې نه وي ترلاسه کړي بيا د درې کلنو نمرو يوه رنګه کاپي.

يادونه: درې کلنې نمرې بايد له اړوند ښوونځي، پوهنې آمريت او پوهنې رياست څخه لاسليک او ټاپه وي.

☑ څلور قطعې انځورونه (چې نوي اخيستل شوي وي، شاتنی پرده يې سپينه او اندازه يې 3X4 سانتي متره وي).

اړينې سپارښتنې:

- پورتنې ټول فورمونه او اسناد له تکميلولو څخه وروسته په يوه پاکټ يا دوسيه کې واچوئ او د پوهنتون اداري ته يې وسپارئ. د نيمګړتيا او يا هم د معلوماتو د تفاوت په صورت کې مو نوم ليکنه نه ترسره کيږي.
- نوم ليکنه او بايومتريک د اونۍ د کاري ورځو په جريان کې هره ورځ د سهار له اته بجو څخه تر مازديګر څلورو بجو پورې تر سره کيږي او ګډونکوونکی بايد د نوم ليکنې بايومتريک په وخت کې اصل د تابعيت تذکره، اصل د ښوونځي شهادت نامه يا درې کلنې نمرې او د کانکور ازمويني ځانګړې فيس له ځان سره ولري.
- د کانکور ازمويني وروسته د بريالیو ګډونکوونکو سره يوه حضوري مرکه (Interview) ترسره کيږي، چې د يادې مرکې نتيجه به پوهنځي ته د بريالي ګډونکوونکي په شموليت باندې تاثير لرونکې اوسي.

يادونه: د کانکور ازمويني نيته د احمد شاه ابدالي پوهنتون فيسبوک پاڼې څخه اعلانيږي.

ازادی مینه (۱۲۰۰ فاميلي) تفريحي پارک ته څېرمه، خوست، افغانستان +93775158888 a.aihe@yahoo.com www.aaihe.edu.af